# دقبالـه ليکني لارښـود

ليکنه اوژباړه:

Ketabton.com

نعمت الله پټانزی

کال:۱۳۹۷ لمریز

Downloaded from: ketabton.com


بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded from: ketabton.com


**دکتاب پیژندنه :**

**دکتاب نوم:** **دقباله لیکنې لارښوود**

**لیکنه اوژباړه:** **نعمت الله پټانزی**

**کمپوزاوډیزاین:** **نعمت الله پټانزی**

**خپرندوی:** **کتابتون ویب پاڼه(www.ketabton.com)**

**دخپریدوکال:** **۱۳۹۷ لمریز**

**آنلاین چارې:** **شمشاد زهیر**

**یادښت:**

داکتاب له کتابتون ویبپاڼې څخه ښکته(ډانلوډ) شو،

دچاپ ټول حقوق یې له لیکوال اوخپرندوی سره خوندي دي ،بې اخځه ګټه اخیستنې ته اجازه نشته!

Downloaded from: ketabton.com


# ډالــۍ

**په هاغه مینه ! یې خپلې درنې مورته ډالۍ کوم،**

**هغه چې زه یې پرې پاللی یم !!**

**نعمت الله پټانزی**

Downloaded from: ketabton.com


# دمطالبولړليک

**سرليک** **مخ**

سريزه.......... ۶
قباله څه شی ده؟.......... ۷
دقبالې ډولونه.......... ۸
معاملاتي (دپيراوپلورقطعي اسناد).......... ۸
دځمکې قباله.......... ۸
مصالحه ليک يااجاره ليک.......... ۱۰
قسمت ليک.......... ۱۰
واده ليک(نکاح خط).......... ۱۰
اداري اوشرکتي قراردادونه.......... ۱۱
دقبالې اهميت.......... ۱۱
دقبالې ليکنه.......... ۱۲
دقبالې قانوني اعتبار.......... ۱۳
دزراعتي ځمکې پلورل اوپيرودل.......... ۱۴
څښتنولي څه شی ده ؟.......... ۱۴
دشتمنۍ ډولونه.......... ۱۴
شخصي شتمني.......... ۱۴
عمومي شتمني.......... ۱۴
دځمکې دڅښتن دندې اومسؤليتونه.......... ۱۵
منابع اومآخذ.......... ۱۶
دليکوال ژوندليک.......... ۱۷

Downloaded from: ketabton.com


## سریزه

**الحمدلله والصلوة وسلام علي رسول الله وبعد:**

**درنولوستونکو!**

قبــاله یــومهم اوارزښــتناک ســنددي چــې داســنادوپه ډله کــې ځــانګړی ځــای لــري، قبــاله پــه ډیروډولونواوسرلیکونوسره لیکل کیدای شي ،پخوابه په یوه سیمه کې یوه یوه سړي داسـندلیکلی شـوای یعنې دقباله لیکنې په برخه کې زیاتې ستونزې شته په داسې حال کې چې داسې کوربه نه وي چې هلته نوموړی سند موجودنه وي ،بنایي تراوسه هم ډیرلوستي کسان ددې سند له لیکلو عاجزوي ، په دې کتاب کې دځمکې دقبالې په لیکلوباندې تمرکزشوی دی. ددې لپاره چې قباله په معیاري ډول سره ولـیکل شي اوپــه دې برخــه پرتــې ســتونزې حــل شي ،پــه همــدې منظــورمې دارســاله د"قبــاله لیکنــې لارښوود"ترسرلیک لاندې له معتبرومنابعوڅخه په ګټه اخیستنې سره تدوین کړه هیله لـرم لوسـتونکي یـې له ګټیوبرخمن شي .

**په خورامینه**

**نعمت الله پټانزی**

Downloaded from: ketabton.com


## قباله څه شی ده؟

(قَباله یا قِباله) په لغت کې مکتوب ته ویل کیږي چې دضمانت لیک اومعاهدې(تړون)په نوم هم یادیږي اوپه اصطلاح کې قباله هغه مکتوب دی چې دانسانانوترمنځ دیوه کار،عمل ،پوراوبادهغې دیوې برخې په اړه په قطعي توګه لیکل کیږي.چې کیدای شي نوموړی سندعادي یارسمي اویاهم مالي اویاغیرمالي وي.

لکه څرنګه چې دقرآن کریم په ګڼ شمیرآیاتونوکې دهغوقراردادونوپه مکتوب کولوکې چې داشخاصولپاره الزام اویادین منځ ته راوړي په ښه توګه دهغوی دسرته رسولواوداړونده قراردادونودګټواوشرایطوڅخه دتیریدنې اوتیروتنې په اړه مؤکدې لارښوونې شوې دي.

قبالې هغه اسناددي چې دهرډول قرارداد ضامن اوددوه اړخونوترمنځ تعهد اوالتزام منځ ته راوړي اوپه ډیرو ډولونواوسرلیکونو سره لیکل کیدای شي.

قباله له حقوقي اړخه دمعاملې سند ،عقد اودمالیکیت سند ته ویل کیږي ،قباله نه یوازې چې حقوقي سندبلل کیږي بلکه دلیکل شویواسنادو یوه برخه هم ده .

له ظاهري پلوه قبالې مختلف ډولونه اوشکلونه لري لکه چې دیوې پاڼې ،څوپاڼو اوکتابچې په توګه لیدل شوې ده.

Downloaded from: ketabton.com


## دقبالې ډولونه:

دمضمون اومحتواله پلوه دقبالې ډولونه دادي:([1])

### 1. معاملاتي (دپيراوپلورقطعي اسناد):

دقبالې له ټولو ډولونوڅخه معاملاتي اسـنادهم دي چې دقطعي پيراوپلورپه توګه عقـدکيږي. دپيراوپلـور دقطعي اسـنادوڅخه دځمکې ،هټيـو اوکورونو قبـالې يادولای شـوچې دلته يـوازې دځمکې قبـاله تربحث لاندې نيسو:

## دځمکې قباله:

دځمکي قباله دپيراوپلورداسـنادو له جملې څخه يومهم سـند دی چې په هغه کې دځمکې موقيعت (څلورخواوې)، اندازه ،قيمت(مروجې پيسـې) په نقـدياډين اودپلورونکي اوپيرودونکي نومونه اوالقاب له مهراولاسليک سره ذکرکيږي اوهمدارنګه دشاهدانو مهر،لاسليک اوتصديق دقبالې په لاندنۍ برخه کې لګول کيږي . که چيرې شفه اخيسـتونکی موجـود وي دهغومهراويالاسـليک هم اړيـن ګڼـل کيږي .دا ډول قبـالې شپږبرخې لري : لومړی دقبالې سرليک ،دوهم نيته ،دريم دبايع اومشـتري(پلورونکي اوپيـرودونکي) شـهرت اولاسليکونه،څلورم دقبالې اصلي متن،پنځم دشاهدانوشهرت اولاسليکونه،شپږم يادونه ،پـه دې برخه کـې ځينې ځانګړې شرايط ذکرکيږي دمثال په ډول که چيرې دځمکې شفه اخيستونکی موجودوي خونومـوړې ځمکه په شفه نه اخلي نو؛دقبالې په دې برخه کې يـې يادونه کيږي اودهغه شخص لاسـليک اخيسـتل کيږي .

په راتلونکې پاڼه کې دځمکې دقبالې يوه نمونه کتلای شئ.

---

([1]) – دقبالې نورډولونه هم شته چې يوازې نومونه يې دلته راوړو: تعهدليک ،التزام ليک ،عقدليک ،طلاق ليک ،شهادت ليک ،استشهادليک ،استعلام ليک اوداسې نور...

Downloaded from: ketabton.com


# دځـمـکـې قِــــباله

نېټه : ۱۳۹ / /

| دبایع «پلورونکي» پېژندنه (شهرت) | | دمشتري«پېرودونکي» پېژندنه (شهرت) | |
|---|---|---|---|
| نوم | | نوم | |
| دپلارنوم | | دپلارنوم | |
| دتابعیت دتذکرې شمېره | | دتابعیت دتذکرې شمېره | |
| استوګنځی | | استوګنځی | |
| لاسلیک /مهر / دګوتې نښان | | لاسلیک /مهر / دګوتې نښان | |

**اصلي متن :** ................................... ځمکه چې (................................) مساحت (پراخوالی) لري چې څلورخواوې يـې په لانـدې ډول دي : شمال ته يې ............................... جنوب تـه يـې ............................... ختيځ(شرق) تـه يـې ............................... لويديځ(غرب) تـه يــې ............................... پــروت دی .بنــاغلي...................................چې شــهرت يــې پورتــه ذکرشــوی دی خـپله ځمکـه پــه بنــاغلي ...................................باندې چې شهرت يـې پورتـه ذکرشـوی دی د....................................................... په بدل کې چې نمايي يـې ..............................................کيږي دنـږدې خپلوانوپـه حضـورکې وپلـورله ،نومـوړي بايع(پلـورونکی) اومشــتري(پيرودونکی) دواړه درضـايت پـه څرګندولو ،بشپړتفاهم اوليدلو سره ددې ځمکې دعقد په تړلوسره بشپړه موافقه لري اوکه دنوموړې ځمکې دعقـد څخـه وروسـته ددې ځمکـې کـوم مـدعي پيداشي مسؤليت يې دبايع (پلورونکي) په غاړه دي . ومن الله التوفيق .

| دشاهدانوپېژندنه (شهرت) | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه/شمېر | نوم | دپلارنوم | لاسلیک/مهر/ دګوتې نښان |
| 1 | | | |
| 2 | | | |
| 3 | | | |

**نوټ/ یادونه :**

تهیه اوترتیب : اقتصادپوه نعمت الله (پټانزی)

Downloaded from: ketabton.com


2. **مصالحه لیک یااجاره لیک[2] :**

پـه دې لیـک کـې پـه معـامله پـورې اړونـد ټـول شرایط،دملکیـت جغرافیـایـې حـدود،دمعاملې اړوندمختصات،تعین شوی مبلغ،دبحث اړوندوخت،ددواړو اړخونوتعهدات اودمعاملې دفسخ(ړنګولو)شرایط بایدپه کره اودقیقوالفاظوسره اویافقهي عباراتوسره بیانیږي ، دډیرواسـنادوپیژندوکوپه آند فرمانونه اواحکام چې دتعهد اوالتزام بنـوودونکي دي دقبالوپه توګه پیژني بلکه ددې ډول سـندونولیکل د ټولنې په روان اوعادي ژوندانه کې جاري نه دي اوټولوخلکوته نه شاملیږي نو؛په همدې اساس دعادي اسـنادوله دایـرې څخه وتلي دي اویوازې دسلطانیاتوپه نامه یادیږي.

3. **قسمت لیک:**

دقبـالې له ډولونوڅخـه یوبـل ډول قسـمت لیـک دي چـې دافـرادو یادیـوې کـورنۍ دغړیـوترمنځ عقدکیږي.چې په دې قباله کې دافرادو نومونه اودهغوی دقیقې برخې ذکرکیږي اوهمدارنګه دافرادو ، شاهدانواوتصدیق کوونکو محراولاسلیکونه درج کیږي.

4. **واده لیک(نکاح خط):**

دواده لیک (نکاح خط) دقبالوله ممهوډولونوڅخه دی چې کله دیوې پاڼې په ډول اوکله هم دیوې کتـابچې پـه ډول لـیکل کیـږي اودزوجینودنومونوبرسـیره دپلارنومونـه اودهغـوی القـاب هم پکـې ذکرکیـږي اوهمدارنګـه دتعـین شـوي محراولګښـتونو انـدازه پـه نقـد،جنس اوملـک سره پکـې لـیکل کیږي؛پـه

[2] – دځمکې له قبالې پرته دقبالې دنورو ډولونو لپاره مې فورمونه اونمونې وړاندې نه کړې داځکه چې هغه دمحاکمواواړونده ادارو له لوری لیکل کیږی اوځانګړې فارمتونه لري.

Downloaded from: ketabton.com



ځینوعقدلیکونوکې دمیرمنې جهیزیه([3] )اوپوښ(وسایل ،توکي اوجامي)هم ذکرکیږي چې دخاوندلخوابه تصدیق کیږي ،اوددې عقدلیک په څنډو اویاڅټ دشاهدانواوتصدیق کوونکومهر،لاسلیک اویادګوتې نښانونه لګول کیږي.

## 5. اداري اوشرکتي قراردادونه :

اداري اوشرکتي قراردادونه هم دقبالې له ډولونوڅخه دي چې دشراکت لیک په نامه سره یادیږي،ددې قراردادونومحتوا دپیراوپلوردقبالوپه څیره چې دشرکت اړونده موضوع ،مختصات،تعهدات،شرایط اوتعین شوی مبلغ اوهمدارنګه دمعاملې دفسخ(ړنګولو)دشرایطو په اساس یې دقبالوپه قطارکې راوستلی شو.

## دقبالې اهمیت:

قبالې په کورنیوکې دیوه مهم اوقیمتي سندپه توګه ساتل کیږي په همدې دلیل سره دکمیت له پلوه قباله هغه سند دی چې په کورنیوکې یې ترټولواسنادوڅخه مقدارډیردی ،دقبالې په اړه ډیره مطالعه کیدای شي دبومي کلتوردپیژندګلوی لپاره ترې کار واخیستل شي اوهمدارنګه دټولنیزو،تاریخي،جغرافیایي،اقتصادي ځانګړتیاوو اودځانګړوتاریخي دورودمعلوماتواواطلاعاتو دراغونډولومهمه وسیل ګڼل کیدای شي.

([3])- هغه وسائل ،توکي اوجامي (پوښ) چې ناوې یې دپلارله کورڅخه دخاوند(میړه) کورته له ځان سره وړي .

Downloaded from: ketabton.com


## دقبالې لیکنه :

پخواوختونوکې به قبالې په عربي ژبه باندې لیکل کیدلې اوپه یوه ځانګړې مطلع سره به پیل کیدلې لکه څرنګه چې دپیراوپلورقبالې به دیرې د«هوالمالک بلاستحقاق» په سرلیک او عقدلیکونه بـه د«هوالمؤلـف بین القلوب» په سرلیک سره پیل کیدلې اوهمدارنګه پخوابه قبالې پـه شکسـتي نسـتعلیق خـط سره لـیکل کیدلې خواوس کیدای شي په ډیرونورو فونټونوسره ولیکل شي ،دقبالې دلیکلواو لوستلو اودنوموړي سـند دمحتویاتودرک اوفهم ډیراړین ګڼل کیږي اویوځانګړی هنراومهارت ته اړتیالري .

Downloaded from: ketabton.com


## دقبالې قانوني اعتبار:

داړونده معاملې ددواړو اړخونو داختيار،بلوغ اوعاقل والي ذکردعقدپه وخت کې دقبالې په متن کې ډيراړين دی،له دې پرته ددې عقد،تعهد اومعامله داعتباراوصحت له درجې څخه ساقطيږي،په دې ډول اسنادوکې داعتباردلازياتوالي لپاره دشاهدانومهر،لاسليک اوتصديق لازمي دی.

معمولأددې سند(قبالې) په څنډو يالاندنۍ برخه کې دشاهدانو دمهرلاسليك اوتصديق لپاره تش ځای پريښودل کيږي،دټولنيزموقيعيت په اساس هريوشاهدپه قباله کې يوه ځانګړې فضاشغالوي په دې معنا چې دقبالې په څنډو غالباً ښي لوري ته يادهغې په لاندنۍ برخه کې لومړی دهغه شاهدانومهر،لاسليک اوتصديق اخيستل کيږي چې په ټولنه کې يې ټولنيزموقف لوړوي بياوروسته دهغه کسانومهر،لاسليک اوتصديق اخيستل کيږي چې ټولنيزموقف يې ټيټ وي .

دشاهدانو اويادمعاملې ددواړو اړخونو دمهر،لاسليک اندازه دټولنيزموقف دلوړالي اوياټيټ والي په اساس دقبالې په ځانګړي موقيعيت کې چې مخکې يې يادونه وشوه په يوه ځانګړې لمن ليک اومتن سره لګول کيږي .

دپيراوپلورپه قبالوکې دپلورونکي مهراوياالاسليک دسندپه وروستۍ ياپورتنۍ برخه کې لازمي دی مګرپيرودونکی په دې دليل چې نوموړی سند يې په اختيارکې ورکول کيږي اودده نوم پکې ليکل شوی وي لازمه نه ده چې مهراوياالاسليک يې واخيستل شي .

Downloaded from: ketabton.com


**دزراعتي ځمکي پلورل اوپيرودل:**

**ښبنتنولي څه شی ده ؟**

کوم توکي (امتعه) چې دکوم شخص له لوري په تصرف کې واقع شي هغه ته دراېي ويل کيږي ،کوم شخص چې دراېي يې په تصرف کې واقع شي هغه تـه يـې ښبنـتن(مالک) ويل کيږي ،دتوکوښبنـتنان دخپلـو شتمنيوپه مقابل کې معين حقوق اومسؤليتونه لري،يعنې يوشخص ترهغه پورې ديوې شتمنۍ ښبنتن کيـدای نشي ترڅويې جواز(قباله) ونه لري کله چې جواز(قباله) موجـوده وي نو؛ نومـوړی شخص ترهغه وخته پورې ددې شتمنۍ مالک ياښبنتن دی ترڅوچې پلورلې يې نه وي .

**دشتمنۍ ډولونه :**

شتمني په دوه ډوله ده :

**الف: شخصي شتمني:**

له هغه شتمني څخه عبارت ده چې چې ښبنتن يامالک يې په خپله خوښـه خپلې اړتيـاوې تـرې پـوره کوي ،داډول شتمني په ورځني ژوندانه کې دګټې اخيستنې وړ ګرځي. لکه :له موبايـل اومـوټرچې مالک يـې په خپله خوښه دخپلواړتياوو دپوره کولولپاره کاروي.

**ب: عمومي شتمني:**

هغه شتمني ده چې ديوې سيمې اويايوه هيوادټول وګړي دهغه څخه دګټـه اخيسـتنې مسـاوي حـق ولـري .لکه : معدن کله چې ديوچاپه شخصي ځمکه کې معدن ومونډل شي نو؛په دې صورت کې دځمکې ښبنتن ته ددولت له لورې دځمکې قيمت ورکول کيږي اونومـوړې ځمکه له معـدن سره يوځـای ددولـت پـه تصرف کې راځي کله چې معدن ددولت په واسطه راوايستل شي عمومي شتمني بلل کيږي .

Downloaded from: ketabton.com


**دځمکې دڅښتن دندې اومسؤلیتونه:**

- دځمکې څښتنان مکلف دي چې له خپلې ځمکې څخه سمه ساتنه اوپالنه وکړي .یعنې ځمکه باید کرونده شي ،دیوال ورڅخه راچاپیرشي اوکه څوک په خپله ځمکه کې تعمیرجوړوي باید‌په معیاري توکه یې جوړکړي هسې نه چې په راتلونکې کې دګاونډیانوځمکواوکورونوته زیان واړوي .
- که دچادځمکې یاتعمیرله امله بل چاته زیان واړول شي دداخلې یانړیوالومفتیشـینودخارنې دپایلوپه اساس به یې دخسارې جبران ورکوي.
- دځمکې څښتنان باید ټولنې ته دزیان اړولومخه ونیسي- . لکه : که دچاپه زراعتي فارم کې اهلي څاروي مړه شي جسدونه یې بایدله دې ځای څخه لیرې یوړل شي .
- دځمکې څښتنان باید دژوندانه چاپیریال ته دزیان اوتکلیف مخه ونیسي- .لکه : خپلوباغونوته داسې دوا وپاشل شي ترڅوپه نږدې چاپیریال کې انسانانو اوڅارویوته زیان ونه رسیږي.
- خپلې ځمکې ته داوبودسرچینوپه برابرولوکې بایدله خپل حریم څخه کارواخلي.
- دځمکې څښتنان باید دویالې دحریم ساتنه وکړي.
- دځمکې څښتنان باید دویالې (نهر)څخه دخپلې برخې په اندازه اوبه مصرف کړي.
- دځمکـې څښتـنان دخپلوځمکودساتلواوپاللولپار له مدرنووسـایلوڅخه پـه هغـه صـورت کـې ګټـه اخیستلای شي چې ټولنیزنظم اودژوندانه چاپیریال ته زیان ونه رسوي.
- هغه اعلانونه اوخبرتیاوې چې دټولنې دعامه اکثریت دخبرولولپاره ددولت یامؤسساتوله لوري لګول کیږي دځمکې څښتنان یې مخالفت نه شي کولای.

Downloaded from: ketabton.com


**منابع اومآخذ:**

1. دائره المعارف کتابداری و اطلاع رسانی، مدخل "قباله" از حوریه سعیدي، بازیابی: 15 مرداد 1392.

2. www.portal.nlai.ir/daka.wilki.

3. **www.parsi.wiki.**

4. **www.amlakvatan.ir.**

Downloaded from: ketabton.com



# دنعمت الله پټانزي ژوندليک



نعمـت الله پټـانزی دشهيداسدالله(صـديقي) زوی چـې پـه ( ۱۳۶۷ه ش/۱۹۸۸م )کال کې دميدان دوردگو ولايت دسيدآباد ولسوالی دشـنيز د درې دپټانخيلو په يوه لرغوني کلي کې په يوه درنه، پتمنه اودينـداره کورنۍ کې زيږدلی دی،لومړنۍ زدکړې يې ترشپږم ټولګي پورې دوردګو ولايت دسـيدآباد ولسوالۍ دسعديې په لومړنۍ ښوونځی کې ترسره کړې دي، منځنۍ اوثانوي زده کړې يـې هم دياد ولايـت دسـيدآباد ولسوالی دحضرت خالدبن وليد (رض) په عالي ليسه کې چې دتکيـې پـه نوم هم شـهرت لـري تـرسره کړې اوله نوموړې ليسې څخه په( ۱۳۸۶ ه ش)کال کې په اعلی درجه (اول نومره) فارغ شو اودکانکورله آزموينې وروسته دهـرات پوهنتـون داقتصاداومديريتي علوموپوهنځی تـه بـريالی شـو ،اګرچې يوکال يـې په دې تحصيلي دوره کې دځينواقتصادي ستونزو له امله ځنډراغی خوله نوموړې پوهنځۍ څخه پـه (۱۳۹۱ه ش)کال کې په پوره برياليتوب سره فارغ التحصيل شو.

نعمت الله پټانزي په (۱۳۹۰ه ش)کال کې دمديريت او تجارت (Business Administration) پـه څانګه کې دجرمني ددوسـت هيـواد دهـانس بنيـاد(Hones Foundation) لخوادافغانسـتان دسوداګرئ اوصنايعوله خونې څخه ترشپږمياشتنيوعملي اونظري زده کړو وروسته تصديق نامه لاس ته راوړې ده.

نعمت الله پټانزی له شعراوادب سره دښې ساري مينې له امله په پښتوژبه شعرونه ليکي چې تـردې مهاله کڼ شميرشعرونه لري.

نعمت الله پټانزي دتحصيل په دوران کې دهرات پوهنتون دليليـې دمحصلينولخوادخپريدونکې(صفا) مهـالنۍ خپروني دمطالبودکتنپلاوي فعال غړی ؤ،چې دهرات پوهنتون له رهبري څخه څوځله پـه سـتاينليکونو و وياړل شو.

Downloaded from: ketabton.com



نعمت الله پټانزي په کې دهرات په ولایت کې دوردګودفرهنګي شورا فرهنګي چارې مخ ته وړلـې اوپـه ( ۱۳۹۰ هـ ش) کال کې یې دغیرت شمله په نوم دیوې مهالنی خپرونې بنسـټ کیښـود اودهغه مسـؤل مدیر وټاکل شو.

نعمـت الله پټـانزي له پوهنتـون څخـه ترفراغـت وروسـته له دولـتي اوغیردولـتي،ملي اونړیوالـو ادارو سره داقتصادي مشاوریت،ټولنیزخوځښت،مدیریت اوخپرونوپه برخـوکې دندې تـرسره کړې دي. همدارنګـه نعمـت الله پټـانزي د(۱۳۹۱هـ ش)کال راپـدې خـوا دهیـواد پـه دننـه کـې دمختلفـو مـلي اوبـین المللـي مؤسساتولخوا په کڼ شمیرښوونیزو ورکشاپونو،علمي سمینارونو اوترینګونوکې برخه اخیسـتې ده.

نومـوړی اوس مهال دمیـدان دوردګوپـه ولایـت کـې دډاکترعبـدالوکیل پـه کثیرالرشـتوي انسـټیټوټ کـې داداري اوتجارت په څانګه کې داستادئ ویاړلري .

**آثار اولیکنې :**

1. جیومتریک مفاهیم اوفورمولونه (لیکنه ،ناچاپ اثر،په کتابتون ویبپاڼه کې خپور) .
2. دقباله لیکنې لارښود(لیکنه اوژباړه،ناچاپ اثر، په کتابتون ویبپاڼه کې خپور).
3. دایکسیل پروګرام زده کړه(لیکنه،ناچاپ اثر، په کتابتون ویبپاڼه کې خپور).
4. په اسلام کې دریږې حکم (ژباړه،ناچاپ اثر، په کتابتون ویبپاڼه کې خپور) .
5. دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته اشاره (ژباړه ،ناچاپ اثر، په کتابتون ویبپاڼه کې خپور) .
6. دپټان ننګ (شعري ټولګه،ناچاپ اثر) .
7. ترمې اوښکې (دحمدونو او نعتونو شعري ټولګه،ناچاپ اثر) .
8. پیچومی(شعري ټولګه،ناچاپ اثر).
9. پټان خیل دتاریخ په رڼاکې(څیړنه،ناچاپ اثر).

Downloaded from: ketabton.com


10. دوردګوپـه ولایـت کـې دفقرعلتونـه اودهغــې دله منځـه وړلـولارې چارې(دلیســانس د دورې پایلیک،ناچاپ اثر).

11. دغیرت خیره (دغازي شیرخان وردګ په ژوند او خاطرو هر اړخیزه څیړنه ، ناچاپ اثر) .

12. رنګینې کرښې (دپوهنتون خاطرې ،ناچاپ اثر) .

13. ګڼ شمیرنورې مقالې چې د هیواد په بیلابیلو مجلو ،ورځپاڼو او ویب پاڼو کې خپرې شوې دي .

پای

۱۳۹۷/غوایي/۷ نیټه

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**